# د مینو ستاینه

لیکوال

محمد گل نوری

Download from: aghalibrary.com

# د مینو ستاینه

لیکوال

محمد گل نوری

Download from: aghalibrary.com

۱۳۶۳

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00040739 4

# د سیڼو ستاینه

لیکوال

مرحوم محمد ګل نوري

له

سریزې، سمون او څرګندونو سره

د

ویاړ، زیارن؛ وهیوادسل په ګټه زیار

خپرونکی
۳

دافغانستان د علومو اکاډیمی
دژبو او ادبیاتو مرکز
پښتو ټولنه
کابل مجله
۱۳۶۳

# سریزه

دافغانستان دد مو کرا تیـــک جمهوریت دعلو مو اکاډمی دژبو او ادبیاتو دعلمی او تحقیقی مرکزدفولکلور او شفاهی ادب د لوی مدیریت مسلکی غړ ی په دی ویاړی چی دخپلو علمی او مسلکی کارو نو په څنګـ کی دیوه داسی شخصیت دمړ ینی لسم تلین هم لمانځی چی د خپل عمر زیاته برخه یی دافغانستان دخلکو دفولکلور او شفاهی اد ب په راټولولو کی تیره کړی ده د غه پوه زیار کښ دپښتنو فولکلوریست لیکوال ، شاعر او مولف او مترجم او په پښتو او پښتو نو لی میـــن شخصیت محمد ګل (نوری) دی .محمد ګل نور ی دعبد الوا حداخون زاده زوی په دیار لس سوه شلم هجری قمری کال دکندهاردکاریزك دمنار ی په کلی کی زیږیدلی او په دیارلس سوه پنځوسم هش کال کی دلندی په شلمه نیټه په کند هار کی مړ او هلته ښخ شو ی دی د خپـل وخت مروج علوم لکه: صرف، نحو،منطق، احادیث ،اخـلاق او ادبیا ت یی و لوستل په عر بی اودری ادبیاتوکی یی ښه معلو ما ت ترلا سه کړل عربی ژبه یی په ښه ډول زده کړه اوهم یی په حسا ب او ریا ضی کـــی معلوما ت پیداکړل . په دیار لس سوه دویم ه.ش کال کی دکندهار دښاله مار په ښوو نځی کی ښوو نکی شو.

مرحوم استاد محمد ګل نور ی په دیار لس سوه دیار لسم کال کی دکندهار دادبی انجمن غړ ی شو دادبی انجمن دتاسیس نه د مر ګـ ترو خت پوری مر حوم استاد محمدګل نور ی یوه شیبه هم بی کاره نه دی ناست اودافغا نستا ن د خلکودنړه او سو چه فولکلور په راټو لولو پسی کلی په کلی او بانډه په بانډه ګرزیدلی دی مر حوم استاد پداسی وخت اوشرایطو کی ددغسی پانګوپه راټولولو بو خت و چی په هغـــه وخت کی فولکلور لا چانه پیژ انده(نوری) صاحب دپښتـــو ژبـــی ددی خزانو یعنی دلنډ یو ، متلو نو پـــه راټو لولو اود قا مو سو نو په لیکلو

ACKU

برسیره یی‌کیسی ،نکلونه،داستانونه‌اصطلاحات ، درسی کتابو نه اونور پەشل‌گونو لیکنی کړی چی ځینی کتابونه او رسالی یی چاپ شوی‌او ځینی‌یی تراو سه پوری لا نه د ی چاپ شوی خو په ملی آرشیف اود علو مو اکاډ می پەکتابتو ن کی‌خو ندی دی .

دمر حوم محمدگل نور ی‌دناچاپوآثارو لەجملی نه یوه هم د( دمینو ستاینه) پەنا مه لاسکښلی‌رسا له ده چی په ملی آرشیف کی‌خو ندی وه اوداده دمر حوم (نوری)دمړ ینی‌دلسم تلین دلمانځلو په مناسبت د محترمو لوستو نکو اودنوری مینه والوتەوړاندی کیږ ی .

ماد مرحوم محمدگل نور ی(دمینوستاینه) رساله تر آخر ه ولوستله په د غی رساله کی داسی خواږ ه او پەزړه پور ی اصطلا حا تاوالفاظ راټول شوی چی دفولکلور ی اد ب‌مینەوا ل پەور نه ډیره گټه واخلی. ددی رسالی داصطلا حاتو ، ا والفاظو ښەوا لی په دی کی د ی‌چی:

١ـ هغه اصطلا حا ت یا الفاظ چی داستعمال ځایو نه یی ډیرد ی لومړی یی اصطلاح راو ړ ی اوبیایی‌پەډیره ساده ژبه نوموړ ی‌اصطلاح ماناکړی او په څو مثالو نو کی یی‌دهغی اصطلاح ما ناجو ته کړیده.

٢ـ داصطلاح ریښه یی دو لس‌پەروانه ژبه څیړ لی د هغی اصطلاح پیو ندیی له مو ضو عسره‌پەشعر یا لنډی کی ښود لی دی د مثال پەتو گه به دغه لا ندی یو ه اصطلاح چی ده څیړ لی او شر حه کړی ده وړاندی کړو .

**لالی :**

((لالی اصلا دپښتو په لغت کی‌وهغه مور روی وړو کی ماشو م ته وایی چی تی روی او پر خبرو لانەوی راغلی څرنگه چی همدا سی وړو کی ماشوم خورا ډیر پر مور او پلار او وروڼو او خو یند وگران وی له همدی جهته پښتو خپل مین‌پەلالی سره تشبیه کړی او عینا او س په ادبیاتو کی د محبو ب پەمعنی استعمالیږ ی دلا لی کلمه‌همد مین اود مینی یعنی دعاشق‌اومعشوقی‌لەخوایو دبله دخطاب او صفت او لقب پر ډول دمحبوب په معنی استعمالیږ ی اود پښتو په ادبیاتو کی پەتیره بیا په لنډ یو کی بیخی‌ډیر د مینتوب تر ټولو الفا ظو او تعبیراتو زیا ت استعمال اوویلی‌شوی لکەپه دی لنډ یو کی :



ACKU

گلان له خاورو پیدا کیږی
زما لالی‌تر گل نازک خاورو له خینــه

گل می دلاسه او بو درووړ
په غم شریــک‌لالیه نیسه کو درو نه ... الخ)

د( مینو ستاینه) پەرسا نه کی‌دغەلا ندی اتەپنځو س اصطلاحکانی الفاظ او کلمی خیرلی شوی دی:

((لا لی، جانان، یار، آشنای ، لیلی، دتر کو میر ، ښارو ، کښلی یاښکلی، ملوکه ،گل ، گران‌دچندن‌ونه مین ، شمی،شمپا،شمو ، د زړه سر ، دستر‌گو تور ،نجلی د ژیړوگلو باغ ، باغ ، لونگین، باز ،شین خالی، نازولی ،تورپیکی ، دگلـــو لښته ، شالیلا دزړه ملهم،لال،چــته سالوواله ،ژیړه یاژیړی جا ن، هلک‌ښایسته ،کښلی مخ،نازەد ین، او ناز نینه ، ماه زمینه ، دزړه کتری،درد من ، دزړه غمی ، دتندی خال، صنم ،دمینی یار، اووه آه وای لیچن،غریب، مرم زهیر، واویلا، ناو زین، کړمن)).

دپور تنیو اتەپنځو س نومو نو لەجملی نەیی ځینی په پښتو اودری دواړو کی استعمالیږ ی .

مر حوم محمدگل نور ی داتەاویااصطلاحکانو الفاظو او کلمو تشه یادو نه هم پدی رساله کی کړ یچی هم پەپښتو او هم په دری کی استعمالیږ ی خو معنی او شر حیی‌نده شوی یواز ی دیوه لست‌پەشکل موجودی دی نوداسی امکانا ت‌شتەچی یایی دهغوی شر حی او معنی‌ته وخت نەو ی پیداکړ ی او یایی هغەبرخه بی درکه شوی وی .

څنگه چی مر حوم محمد گـــل(نوری) دافغا نستا ن د خلکو د فولکلور او فر هنگ پە راټو لولو کی نەستړی کیدو نکی هلی ځلی کړی. اود خلکو فولکلور یی دخلکوپەژ به دخلکو دپاره راټو ل کړ ی او خو ښ باندار یی پری لیکلی نولەدی امله په خپلو خلکوگرا ن او د خلکو پەزړو نو کی ځای لری.

نوری چی پەیوه غر یبه اوستانەکورنی کی لوی شوی‌و دو خت ا و چاپیر یال دستو نزو سره سرەهغەڅه چی‌ده دخپلو خلکو اوچاپیر یال نەزده کړی وو دهغی زده کړ ی‌اوپو هی نەیی د خپل‌و لس خپلی ژبی او خپلو خلکو دفولکلور اوفر هنگـپەغناکی ستره ونډ ه واخیسته اوپه دی‌لاره کی یی بی ساری او د قدر وړ خد متونه ترسره کړل بی ځایه بەنەو ی چی دلته دمر حوم نور ی دهغو علمی پانگو او آثارویادو نەهم

وشی چی دخپلی ژبی او پښتواد ب‌دپیاوړ تیا دپاره یی لیکلی دی :

**لومړی چاپ شوی آثار :**

۱ـ ملی هنداره دری ټو که چی‌دفولکلور ی افسانو مشهور ه ، مجمو عه ده او ډیر شهرت لری .

۲ـ لیك ښوو نکی .

۳ـ پښتو اصطلا حا ت‌اومحاوری.

٤ـ ملی سندر ی .

٥ـ متلو نه .

٦ـ پښتو قا موس دوه ټو که .

**ب ـ ژباړ نی :**

۱ـ دپو هنی دتدریسی پرو گرام‌دپاره .

((طبیعی پو هنی ، دنیا ت،مدنی‌اخلاق ، مد نی معلو ما ت او همدا رنگه درحمت اللعالمین په نا مه له‌عربی نه‌تر جمه یو کتاب .

۲ ـ هغه آثار چی نه دی چا پ‌شوی:

الف ـلیکنی :

۱ـ ملی بدلی یو ټو ك .

۳ـ ملی دودیو ټوك .

۲ـ پښتوآ هنگو نه .

٤ـ خوږ بانډار .

٥ـ دخوشال خا ن حل اللغا ت‌یوټوك.

٦ـ دخوشالخا ن منتخبا ت یو ټوك.

۷ـ دعبد القادر منتخبا ت یـوټوك.

۸ـ داحمدشاه بابا منتخبا ت یوټوك.

۹ـ پښتو یاد یو ټوك.

۱۰ـ دمینورسا له یو ټو ك.

۱۱ـ داحدغزا یو ټوك.

۱۲ـ دیار لس نکلونه یوټوك .

۱۳ـ دنوی دیوان یوټوك .

۱٤ـ زوړ کندهار یو ټوك.

۱٥ـ دشینخالو ناری یو ټوك.

۱٦ـ دو اویا ډیالوگونه اوډرامی‌چی زیاتره دهیواد په نندارو اورادیو کی تمثیل شوی دی .

۱۷- دسنگلیچی واخی‌اشکا شمی‌اومنجی قا مو س په مقابل کی‌پښتو لغات په‌پښتو ستون کی ځایول .

ب- ژباړ نی :

دغر بی او نورو څخه یی په بیلو بیلو بر خو کی پنځه کتابو نـــه ژباړ لی دی.

محمدگل نور ی په‌دیار لس سوه دیارلسم کی‌دکندهــار د ادبــی انجمن رسمی غړ ی شو. . پدی وخت‌کی ده(لگیا) تخلص کاوه خو کله‌چی په دیار لس سوه پنځلسم کال کی دکندهار ادبی انجمن‌دکابل دادبی انجمن سره یوځای شو اوبیاوروسته په دیار لس سوه شپاړسم کال کی پښتوټو لنه جوړه شوه اومحمدگل نوری دپښتوټو لنی‌مسلکی غړی شو داو خت ده خپل تخلص(نوری) وټاکه اوددی تخلص لــه خو ښولو نه‌یی دوه مطلبه در لودل‌یوداچی دکندهار دمناری د میا نور- محمد صا حب له اولادې نه‌و اوبل‌داچی په‌کام نورزی‌و .نوری برسیره په دی چی مشهور فولکلوریست اوژبپوه‌و ډیر خوږ ژبی شاعر هم و چی دشعر نو مو نه یی داده.

نن دی‌بیاله‌خیاله کښیښود پــه‌گریوان گل
له‌حسده ځکه وما نه خزا ن گــل
له‌وجوده دی دمښکو بوی ر ا دروی
هسی‌ښه‌بوی نه لرینه د ریحــا ن گل
ستاد مخ دنزاکت صفت چـــی‌وسو
تر ځــــټ‌ژبه وایستله کاذ با ن گـــل
په‌سره گل سره چی خلکـــو وستایلی
ځکه ځا ی‌په‌غره کی ونیو ار غوا ن گـــل
کافر گل له خجالته کښتــــه گوری
تا چـــی‌وټو مبه په چتر کی مر جان‌گل
باغ له مه څه دریدی تر گـــل‌ناز که
ستا له مخـــه‌څخه شر میږ ی دبو ستا ن گل
لکه‌ستا په غم کی زه په رنگـ ژیړی‌یم
هسی رنگه‌ژیړ به نه‌و ی دزعفرا ن گـــل
مخ نه اړوی، بلبل دگل د مینـــی
که‌هر څونه‌تیره و لری اغز یا ن گـــل

داستا مینه می ترزړه هســـیتاو سوی
لکه تاو سی‌له‌شنیلی عشقه پیچا ن گـــل

دځوانی دباغ باغوا ن به دی‌نوری‌سی
دخپل زړه په‌غم‌یی ساتی بنه با غوا ن گـــل

مر حوم نور ی یوازی فولکلو ریست ،ژبپوه ، مو لف او شا عر نه‌و بلکی یو ښه‌تکړه نثر لیکو نکی‌هم‌و نثر یی دوه‌ره خوږ روا ن او په سو چه‌ژ به لیکل شوی چی سړی‌یی په‌ویلو نه مړیږی.

خو ده له دوه ره نه هیریدونکوخد متونو سره سره دخو ږ لوډوډی نه در لوده او په‌ځان پوری اریان‌واود محترم یوه عطایی په قول ((د ختهو خواری ته محتا ج شو او په‌داسی حال کی‌چی په سپینه ږیر ه او ریږ دیدلی بدن به‌یی دختهـــــومزدور په حیث دختهو کا سی‌چلولی اود بی سواده بڼایانو قصرو نه به‌یی جوړول خود لیننگراد ،مسکواو مو نشن په اکاډ میوکی دی‌یوازینی‌بیژندلی‌خیره وه اودده نوم د د غو اکاډ میو د ملتونو دژبو او ادبیاتودیخو محققینو په جمله کی قیـــد شوی‌و)).

ښاغلی عطا یی دخپلی یوی‌ترخی‌خاطر ی په‌یادو لو سره زیاتوی : «زه د مسلك په نوم لوړه کوم چـــی‌بوه شپه می دمسکو دراډیو څخه‌دده په‌باب دپښتو دفولکلوریك اد ب دتحقیق دلمانځنی په باره کی دده‌په درناوی یوه مقاله واوریده خو کله‌چی ددفتر څخه راوو تم نو(نور ی) می په هرات دروازه کی ولید چی‌یو تاغار مستو ته ناست‌و هغه یـــی خرڅو لی او یوشم ور ته لگید لی‌و)).

دافغا نستان دخلك ددمـــو کـــرا تیك گو ند اود افغا نستا ن دد مو-کراتیك جمهور یت دکلتوری‌پالیسی‌سره‌سم او س دافغا نستا ن خلك په‌تیره بیا هغه څوك چی د خپلـــی‌ژبی ، فولکلور ، فر هنگ ،ولسی ادب او ملی افتخارا تو سره مینه لری هیڅکله دمر حوم محمد گــــل نور ی په خد متونو او هڅوسترگی‌پټی نه کړ ی اود قدر په‌ستر گه‌به ور ته گوری.

کهزه داروا بناد نور ی پـــهشخصیت اودده په هغو خدمتو نو چی خپلی ژبی اود خپل و لس د ادبیاتو دپاره یی کړی هرڅه ولیکم هغهبه ډیر کم وی یواز ی دو مرهوایم چی دمر حوم نوریخدمتو نه به دتل لهپاره دافغا نستا ن دخلکوپهفولکلور کیثبت وی او قدر بهیی کیږی زه دلوی خدا ی (ج) څخه مر حوم محمد گل نوری ته بخښنه او مغفر ت غواړم.

په درناوی

**شهزاده زیارن دعلو مو اکاډ میدشفا هی ادب او فولکلور لویمدیر**

# د مینو ستاینه

**آشنای :**

په پارسی کی آشنا دشنا خته په معنی دی په پښتو کی آشنا ی هم دملګر ی او هم د دوست او هم دپښتو په ادبیاتو کی خا ص‌دمحبوب او معشوق او عاشق په معنـــــی استعمالیږ ی.

**لنډی:**

آشنای می پاته پر وطن شو
زه مسا پر پرلاری ځم سلګی‌و همه

آشنای می ګل دلا سه نه اخلی
زه دآشنای دلاسه‌ز هر په‌لپو خور مه

آشنایه ولاړی آسمانـــی شو ی
آسما ن چی مځکی ته‌را ځی قیامت‌به‌شینه

ملامیران وایی :
نن می دزړه آشنا ی په وـصـل را غی
په ژړاوایم د لـب پیغا م را غـــــی

* * *

**اوه،آه، وای :**

داکلمی دپښتو په ادبیا تو کی د درد دښکاره کولو د پــــــا ره استعمالیږ ی.

عبد القادر وایی :
زخمی شوی دی هر لور عبــــد القا دره
څوک اوه‌اوه څنی آه‌آه څنی و‌ی وای کـــا

**باغ :**

په‌باغ سره هم کله‌کله مین ځان ستایی .علی بیګ چی پرشاپا ټو مین‌و هندوستا ن ته‌تللی و شاپا ټودمعصوم خا ن څخه په عذا ب شوه نو علی بیګ ته خط لیکی په کی کاږی.

علی بیګ لره په واستو م حا لونه
که په دی میا شت کی‌رانه غلی معصو م خان دی‌په با غ
ګډ ایسته مالونه

**تورپیکی :**

تورپیکی یعنی سیاه کاکل‌وسیاه‌زلف تور پیکی خا ص د محبو بی او مینی په معنی استعمالیږ ی ا و اکثره پښتا نه دخپل لورنوم‌تورپیکی ږدی چی داپه پښتو کی ډیر ښه‌نوم‌او صفت دی او خالص پښتو د ی دبلی‌ژ بی اړه نسته په

**لنډی:**

دلویو غرو سیوری پر نسته
دا تور پیکی‌سا یه دځانه سره وړ ینه
دسپرو ما تی په غر مه وی
دتور پیکی‌ماتی له ځاښته سره وینه
سر می دخدای مال می دکلی
که تور پیکی راپسی واخلی قد مو نه

ددی دو همی لنډی په مطلب زه‌ونه‌پوهیدم عینا می هغسی و لیکله لکه‌چی می اروېدلی او لیکلی سوی‌وه.

* * *

**جان :**

دجان بیان مو دجانان دکلمی سره‌کړی دی یوازی جان هم‌مین وایی جان په‌پښتو کی یعنی دپښتو پـه ادبیاتو کی بیخی ډیر خا ص دمین او معشوق په معنی استعمال دی د پښتو په لنډیو او بدلو کی خورا ډیر استعمالیږ ی اومینی ته دجا ن په‌لقب خطاب کیږ ی .

احمدشاه بابا وایی:

راسه جانه زما جانه بل جان نه‌لرم
که‌روزی‌شوی‌زما نور به ارما ن نه لـرم

دجان کلمه پښتنی ښځلی پــه خپلو اشعارو کی یعنی بابولا لــه داتن په ناروه خور ښا دی ښــــه رورا کی خورا ډیره وایی .

* * *

**جانان :**

جانان که څه هم په پښتواو پاړسی کی په دواړو کی دمحبوب په معنــی استعمالیږ ی مگر په پښتو کی ډیراو په پاړ سی کی لږ لږ استعمالیږی . جان په پاړ سی کی دروح او ځا ن په معنی دی نو داماته څر گنده نه شوه چی الف او دو هم نون دڅــه سببه پور ی تړ ل شوی مگر زما په عقیده جانا ن په خپله عا م ا و خاص دمحبو ب په معنی په ادبیاتو کی استعمالیږ ی بی له دی چــی دجان دلفظ څخه اخیستته شو ی یا مشتق شوی وی.

حافظ ته منسوب بیت دی :

جان من جانان من　　برده دل وجان من
برده دل وجان من　　جان من ، جانان من

**لنډی :**

جانان زما زه دجانان یم
که پـــر بازار می څر څو ی ورسره ځمه
جانان دی بدکی زه به ښه کم
دجا نا ن بد می په لیمو منلی د ینــــه

شیر محمد وایی :

جانان چی کښینو ست په گاډی کی　　دمسافرو په ټو لی کی
پر مسا فرو جوړ اختر شو　　آسانه دوی ته داسفر شو

سیدکرم شاه وایی :

داغ پر زړه دی دلاله جا نانه　　وسوم هجرانه

عبد اللهوایی :

ډوب یم په غم کی　　پروت په تورتم کی
مرمه صنمه ډیرسخت می گزرانه　　عشق دجانانه

جانان و یوډول قیمتی چینی ته هم وایی او همد غه رنگه ځینــــی ښتانه پرزوی دجانا ن نوم ږدی .

**چته :**

چت په‌لغت کی و آزاده ځوا نته‌وایی مو نث یی چته را ځی چته د پښتو په ادبیاتو کی دمینی‌اومعشوقی په معنی راځی .

**لنډی :**

مایی دغاښو ننداره کړه
چتې ورواچول دسروشونډو کلپو نـــه
سپوږ می دغره څو که و هینه
د چتـــی‌پار لکه شمهین غو ټه و هینـــه
سپوږ میه تاو کړه سیلو نه
چتې پرتی دی‌سپینی خو لی ژیړ پیزوانو نـــه

* * *

**دتر کو میر :**

دا مر کبه کلمه او صفت هم دپښتو په اشعارو کی دمعشو ق او مین‌په معنی استعمالیږ ی او ډ یرځایو نه پښتانه خپل مین په تر ك سره‌خطاب او ستا یی دپاړ سی په‌ادب کی هم معشوق ډیر په تر ك سره ستایل کیږ ی.

ملامیران وایی :

نن میر دترکورا غی زړه می‌یووړ په منګول کی
لمبې می تر خو له‌خیږ ی اور می بل دی‌په‌ګوګل کی

حمیدوایی :

دایی ښنا خ له‌ګل سره په‌تلوا ر پری کړ
که‌له زړه‌سره می تر کو لړ مو نوکیښ

* * *

**دچنډن ونه :**

کله‌کله پښتانه مین په‌چنډن سره‌ستایی او خطاب ور ته‌کوی چند ن دپښتو په‌لغت کی دصندل ونی ته‌وایی دپښتو په ادبیاتو کی ډ یر معشو قا ن په‌ځینو و نو سره‌تشبیه‌او خطاب ور ته شوی دی .

لکه :
سرو ، شمشاد، چندن او نور.
دآدم خا ن په‌قصه کی دا سی وایی:
ربه څه دی در بدر کړو
چی له خو ږه‌درد مند زړه دی خبر کـــړو
دچندن و نه ما غوښتله له خدایه
غنی خدا ی‌هم په ګنه هیرو برا بر کـړ و

* * *

**دتندی خا ل :**

خال جبین دپښتو ،اد ب پـــــه اصطلاح کی‌و محبوب ته‌وایی .
کمال باباوایی :
تردنیا تیر شوی زما آغا دتند ی‌خا له
نو څـو ترخو می‌ژنګوی‌د غمګی ئا لـــه
دیار په دوو سترګو افسو س کوه کماله
یودرو شـــا ن‌دغمګی څای پای تیر ی د ی

* * *

**درد من :**

دردناك درد من په‌پښتو کی دردناك او قهر نا ك ته‌وایی اود پښتو دادب په اصطلاح کی خا ص عاشق‌ته‌ویل کیږ ی.
اودل وایی :
هزار ځله صدقه شم تر درد من
که‌مجنون‌دی که فرهاد غو ندی کوه کـن
د درد منو تر خو لی تل آهو نه‌خیږ ی
په ژړا ژړا دوه ستر ګو لیچـــن
احمدشاه بابا وایی :
پر دلبر که زه قبول که‌ناقبول یم
شکر کاږه‌چی زه ستاد مخ درد من شو م

**دزړه سر :**

یعنی سردل پښتانه خپل مین دزړه سر بو لی او خطاب ور تـــه کوی.

**لنډی :**

چیوړاندی ځم بیرته‌کاته کم
نا مرده خلقو دزړه سر می پاته شونه

او کله‌کله دډیره محبته دزړ گی‌سر ور **ته‌وایی :**

شیر محمد وایی :

جانان ټیکس واخیستی ځینه زما پر مخ او ښکی راځینه
گاډی ولاړه ده تیاره دمسافر لالی د پاره
بابوجان ځان که‌ښه سنبا له چی نشی دی خا طر ملا له
دسترگوتور دزړ گی سر نو ر چشمان دی
خاطر می ځکه پریشان دی

تاسی وگوریء :

شیر محمد چی دزړه مین و اودزړه دحرار ته اود خپل مین‌دبیلتون په حالت کی یی دابدل ویلی ده ددی بدلی په یوه‌بند کی یی خپل مین په‌خو ډوله او په خو تعبیراتو ستایلی او **بللی دی.**

* * *

۱- جانا ن .
۲- مسافر .
۳- لالی .
٤ - دسترگو تور .
٥ - دزړ گی سر .
٦- نور چشما ن زیات پر د ی‌ددغی غز لی په‌نوروبندو کی یی خپل مین په‌ورو کی یار ، گل‌رنگین‌نازولی آشنا ی سره هم یاد کړ ی او ستایلی دی.

* * *

**دزړه غمی :**

نگین دل په دی صفت سره هم‌پښتانه ادیبا ن او شعرا خپل محبوب مو صوف اوستا یی .

کمال باباوایی :

تر دنیا تیر شو هغه زما دزړ ه غمی دی وای
یو په دوو ستر گو وطن‌خپل په دوو پردی دی وای

**دزړه کتری :**

یعنی توته دل ،دا مر کبه کلمه هم پښتنانه ادیبان دمحبو بی پـــه معنی استعمالوی او محبو به پـــه ستایی .

شاه حسین وایی :

نن دی اور بل پر سپین تند ی باندی را خپور کیء
بل دی پر ما اورکیء
راسه دلبری ته زما دزړه کتره یی هم ته بنایسته یی
زړ گی می وینی ته دناز، پـــه ننداره یی
دگل دسته یی
دستا په عشق کی می پردی خپل کلی کورکی
بل دی پر ما اور کی

**دزړه ملهم :**

مرهم دل ـ دپښتو په لنډ یو کی او نورو ادبیاتو کی دزړه په ملهم سره ستایی .

لنډی :

دستر گو تور دزړه ملهمه غم دی پرما دی په خندایی تیرومه

* * *

**دژیړو گلوبا غ :**

یعنی باغ گلهای زرد ـ دپښتو په ادب کی مین او معشو قه دژ یړو گلو په با غ سره هم یاد اوخطا ب ورته کیږی لکه چی داتڼ د تکیو په سرو کی یو داد ژیړو گلو با غ د سرء او مرجع پرځای وایی لکه :

داپیغلتوب می دغم دود کی هو
دژیړو،دژیړو گلوباغه د ژیړو
خیالی ځوانا ن راپسی مر ی خون کاره شومه
هو ـ دژیړو دژیړو گلو با غه! دژیړو.

دمو من خان په قصه کی مو من اودده مینه شیرینو وایی :

شیرینو :

تاد سفر موزی په پښو کړ ی دژیړو گلوباغ پر چاسپاری مینه

مو من خان :

مادسفر موزی په پښو کړ ی دژیړوگلوباغ پرخدای سپارم مینه

بل ځای مومن خان وایی :

که پایدوا ن یی زما یار یی دژیږ و گلو باغ پرځای که‌خزان و نه

پایدوان :

که مومن جان یی پرماگرا ن یی دژیږ وگلو په‌با غ‌گډواته‌ما لو نه

• • •

دستر گوتور :

همدغه رنگه دپښتو په ادبیا تو کی مین دسترگو په تور سره بللی اوستایل کیږ ی.

لنډی :

دسترگو تور لالی می‌ورك د ی

پر زر گر ناسته یم ښیره یی جوړ و مه

دسترگو تور لا لی می و ر ك دی

دسودا گر د ننجو ما لوږ لی دینــــــــه

• • •

**دگلولښته :**

دگلو لښته یعنی خمچه گل دگلولښته ډم د محبو بی په معنــــــی استعمالیږ ی .

دما مو نی بدل :

ته‌وی دگلو لښته راو لویږ ی لښ ختخته

ښایست در پوری اور شو ښنکه‌لاړی په خوانی

ارمان دی میمو نی

لنډی :

دلاله خدای دپاره ور شه دگلو لښته په‌زړه ماته‌که مینه

• • •

**دمینی یار :**

یاردآشنای په معنی دی اودمینی‌معنی محبت ده دمینی یار یعنــــی دواړه کلمی چی یو ځای سره راشی‌خاص په معنی دمین او معشو ق دپښتو په‌بدلو کی استعمالیږ ی .

عبد السلام وایی :

خدایه راو لی زما دمینی یار
چی یی ونیس لاسو نه کړ م رقیب‌ته ساما نه

**زهیر :**

پریشان خفه دا کلمه هم دتا ثر په‌ئمای استعمالیږ ی ۰

زاهدوایی :

کله‌به راوړ ی ژیړه ز نه‌سمرقند که‌خو ند
ستا پـه‌کمندشو م بند دتو رو ز لفــو
باړو دغشی دلنړی کوی خد نگـخد نگـ
راشه پرخنگـ یو درنگـ غوا ړ م دی مهـــر
نن دی پر غاړه باندی زا نگی تورلو نگ قشنگ
زه شو م ملنگـ پتنگـ صورت‌میَز هیر
شینکی دی خال دی پاس پرتخت بادشاه دچین ماجبین زنه گبین
دسین پهٔشان ځلیږ ی

* * *

**ژیړه یاژیړی :**

په دی پورته صفتو سره هـ م پښتنانه ادیبا ن دپښتو په اد ب کی مینه او معشو قه ستا یی ددی‌مطلب دپاره داحمدشاه بابا یوه غزل را نقلوو چی هم دا مطلب ثابت شی‌اوهم په دی ضمن کی دمینی نـــور صفات او ستا ینی دمینی ځر گند ی‌شی ۰

مخا مخ راغله ژیړی
دمینوزړه یی یووړ
توری زلفی یی کمند دی
دیر پهٔحسن آراسته ده
دوی لیځی مصری تور ی
خودپرسته پری و شه
ناز نینه ده دلجو یه
مخ‌یی لمر ستر گی گلو نه

رنگی گل ستر گی گولی
په هوس لکه هو سی
دعاشق دسر زند ی
راځی هر چی تاب لری
تل‌و هی دسر مر ی
تل پهٔزړه کوی باز ی
له هر چاکوی یار ی
کاپه سترگو قصا بی

**سالووا له :**

سالو پەلغت کی دښځوورېښمین پوړ نی تەوایی یعنی چادرابریشمی زنانه سالووا له یعنی هغه ښځلـه چی دسالو پوړ نی لری.

دپښتو ادب په اصطلاح کـی مطلقی معشو قیٔ او مینتی ته وایی. سالو چی پخوایو مخصو ص‌تو کرو دپښتنو ښځو او پیغلا نو خورا ډیر خو ښاوه پەزیاته بیا سور رنگـی چی(سور سالو) ور تەوایی.

لنډی ـ

داستا پەزړه هغه می وکړ ه
اوس می سا لو پرمخ رپږی ده خوب‌می وړ ینه

لکەیوی پښتنی شاعر ی‌چی‌ویلی‌**دی**.

سور سالو می کور دی ... پیزوان می دزر گر کره

لنډی :

چی سالو وا له دی زړه‌غوا ړی
د کډ ی‌سر په اجاره وا خله مینـــــه

ښځی داتن او ایشلی په نارو کی‌وایی:

سالو والی ږو لاړه یمه ... **بنگړ ی والی پر درغلمه**
سرپر نر ی څنگلی کیږ ده ... سالووا لی اولاړه یمه...

**ښارو :**

ښارو دپښتو په لغت کی میناتەوایی چی یو مشهور مر غه دی‌چی‌زر دانسا ن په خبرو عاد ی کیږ ی اوخبری کوی داخاص دپښتو ادا ب په اصطلاح کی پښتا نه خپلـــــه معشو قه په دغه ښاروسره تشبیه کوی او ستایی .

پښتون ادیب وایی :

زړه می یووړ په منگلی چی نـــ‌راغله ښارو
زخمی په غم‌کـــی ناست‌یم د هجرا ن په کتا ر و

لنډی ـ

ښاروپر تگـ دی خدای مین کړ م ... **ماته پەلویەلارکی کیږده قدمونه**

**ښایسته :**

ښایسته هم دمطلقی محبوبی او ښکلی‌په معنی استعما لیږی .



ACKU

عبد القادر خان وایی :
داخل ډیر ور ځنی ښاد عبدالقادرشو
چــــی پهبیا د ښایسته و اعتمادکـــا

خوا چه محمدوایی :
سرو مال به همگیځینی قربا نکړم
زه خوا جـــه محمد مر ید دښایستــــهوو

**شالیلا :**

مینه دشالیلا پهنا مه هم بللــه کیږ ی پهلنډ یو کی بیخی ډیـــر ومینی ته دشالیلا خطاب کیږی .

لنډی :
دباغ یی هر بوټی لو نگ دی
چی شا لیـــلا پهباغ کی ستر گی تورو ینـه

**شهی، شها ،شهو :**

شها ، شهی، شهو دری وا ړ ه یوه معنی لر ی شهی او شهو پـه عربی لغت کی و هغهشی ته وا یی‌چی مشتهی وی اودسړی هوا ، او اشتها ور تهکیږ ی .دالغت که څههم عر بی دی مگر دپښتو په ادب‌کی یی دو نه عمو میت موندلی دی چی‌اکثرهوگړی یی دپښتو مال بولی.
شها، شهی، شهو په الف، یا،اوواوسره دپښتو دادب په اصطلا ح کی فقط و معشو قی او مینی تــهوایی .

احمدشاه بابا وایی :
که دصید په دودسم غلی نـــهخلا صیږم
له شهی ابرو کمانــــه جنگ پر جنگ

همدغه رنگه بل ځای وایی :
مینه هیڅپیری په زړو په زور نهشی
د شهــامینه په روح ده زړ ه لتـــا

بل ځای وایی :
دشها دانگی سیل ســی (احمده)
که تسلیم‌خپله رضا کړی زما . نــــه

شهود دلی نا می مینه اومعشوقهوه چی دا دوه مینا ن ا، ه قصه‌لری چی داکبر پاچا په عصر کی وهدلته یی‌تفصیل نه ځاییږ ی ما یی قصه

لیکلی ده که خدای کول د ملـــــی هنداری په دو هم جلد کی به چا پ شی.

او زما په خیال دشها او گـلا نپه نا مه هم یوه قصه شته مگر یقینا او س نه ده رامعلو مه چی کله ا و ځنګه وه ؟ کله کله ځینی پښتا نـــه دشهو نو م پر خپلو لوڼو ږ دی او کله کله په محاو ره کی (ه) په (و) بدلوی(شوو) وایی .

خوشال خان خټك:

دشهی تورو سنبلو — په سپین مخ بی تسلسلو
پری غوغا کانی بلبلو — تل بهو خت نهو ی دگلو

• • •

**شین خالی :**

زن سبز خا ل یعنی هغه ښځه چی پهتندی کی یی شین دنیلوخال وهلی وی دپښتو په بدلو کی مینهاو معشو قه پهشین خا لی ســـره ستایی .

لنډی :

شین خالی ټیټه شه خو له راکه
بلا پسی کهباچا واخیستل جر مو نـــه

دشین خالی په نا مه یوه لو یهقصه شته چی په کندهار کیکیږی او شین خا لی هم دکندهار یو ه توریالی او ښکلی پښتنه وه.

دشین خا لی نارو دو نهعمومیت او اهمیت مو ندلی دی چی دلنډ یو ترعمو میت او اهمیت بهلږ څه کم‌وی . ما یی ډیری نار ی ټو لی کړی دی یوه ناره یی داده .

سپینه خو له لکه دور ی — تر پلوگوری شین خا لی

**صنم :**

صنم کهڅه هم عر بی ده چیپه معنی دبت یا بد اودخیری او مجسمی دی مگر داکلمه دپښتو او پاړ سی په ادبیاتو کی دمعشو ق په معنـــی خورا ډیره **استعمال کیږی په زیاته**بیاپهپښتو کی .

عبد السلام وایی –

اخلی آزار و بیمار په هر دم دم
کلـــه‌به می موړ کی په خو له صنـــم
سترگی دی توری لکه اطلســـدی
جلوه نما یه‌نـــــــو ر د مجلســـــــس د ی
په‌گلستان کی شهلا نر گس دی ابرو هلال ، نشته ستاقسم سم
کله‌به می موړ کړی په خوله‌صنم

ولی محمدوایی :
که می نصیب شو ستاو صا لای ناز نین صنمه
تر گل رنگین صنمه
سپین دی ر خسار دی سره لبان‌دی رنگین صنمه
تر قند شیرین صنمه

* * *

**غریب :**

گلو گیر ی یعنی گر یه گلو گیر، مثلا په محاوره کی وایی ر جب و سنك ته دردوکی رجب ته غریـــب‌ودریدی یعنی داسی زړا ور غله چی ستونی یی ډك او وپړ سید ی ا وژړلی یی نه‌شو زړه می دغر یبه‌ډك دی دلم از گر یه دردناك پر است.
داکلمه دتاثر او درد کلمه ده چی‌دپښتو په بدلو کی راوړه کیږی.
ملامیرا ن دپښتو ادیب وایی:
په‌گوخه کی دولاړ دغر یبه ډ ك یم
د غه سپی رقیب پر ما باندی حمله کـــړه

* * *

**کړ من:**

کړ دپښتو په لغت کی و رنځ ومحنت او تکلیف او جنجال ته‌وایی.
کړ من یعنی هغه څوك چی پـــه‌تکلیف او رنځ اخته‌و ی دپښتو په ادب کی داکلمه دتاثر اوددردښکاره کو لو دپاره استعمالیږ ی .

احمدشاه باباوایی .

که می زلفی ستاد مار په ځیـــر خوږ من کا
خوښ بهزه یمــهددوی په خو ږ کړ من شـــو م

• • *

**کښلی ،ښکلی :**

کښلی یاښکلی په لغت کیلیکلی او نو شته او خارج شده اوښایسته او حسین تهوایی .دادب پهاصطلاح کی وحسین او **مطلقی معشوقــی او** محبوب تهوایی .

پیر محمد کاکړ وایی :

زه په خا طر کی دعشق ځــرا غ لرم
مدا م په کښلیو پسی سرا غ لــر م
پیر محمد پټ کړ داه دو دونو
پـــه اور کی و سو فرا ق دکښلیــو
زړه دی دښکلیو عاقل فـــرا غ کا
فرا ق رادرو می فتور په چا غ کـــا

حمیدوایی :

یو مخی حمید دخړ بن دښکلیو **دی**
مصر که کنعا ندی کهکشمیر دی که کا بـــــل
که دښکلیو د درگاه گدا یـــیمومم
هی توبهدمحمد شاه له سلطنتـــــــه
سپینه ږیره زما عشق کو تـــهروپی کړه
هیڅ یی نه قبلوی ښکلی په سودا کــــی

• • •

**کښلی مخ:**

خوبروی ، روی خو ب دا مر کبهکلمه مطلق دمین په صفت کــــی استعمالیږ ی او کله کله د نو روشیانو دښکلا دصفت پهتو گه هم راغلی ده.

عبد القادر خان وایی :
چی په کی ایښی ښه صورتو نه دی
ځکه پـــه مځکه ښکاره گلو نـــــه د ی
قدم پری ورو ورو په احتیـــاطږده
داتور ی خاوری کښلی مخو نــــه د ی

یوه بله ښدځه وایی :
جانان می کښلی څـــــا د ر واغو ست
جو نی پــه‌سیل پر بامو و لاړ ی دینـــــه

* * *

## گرا ن :

گران په‌لغت کی عزیز ،قیمتدار، مشکل ته‌وایی مونث یی گرانه ده دپښتو په لنډ یو او اشعا رو ا و بدلو کی عمو ما خپل مین ته‌دگرا ن خطاب کیږ ی.
لنډی ـ
گرانه دخدای دپاره راشه
پر مـــاتیاره ده چی‌رڼا راباندی شینـه

## گــــل :

پښتانه په خپلو ادبیاتو کی خپل‌مین په‌گل سره هم ستا یی گل په پښتو او پاړ سی کی سره شر یك‌دی .
لنډی :
گل دزر گر پر دکان ناست
چی دغه‌سپین‌مخ یی دلمر شغلی و هینـــــه

* * *

## لال :

لال یا دلعل څخه اخیسته شوی‌دی یا مخفف د(لالی) څخه دی نوپه پښتو دندا او خطاب په‌و خت کی لال لاله‌وایه‌کیږ ی په دی کلمه‌سره هم ومین ته په‌لاله‌سره خطـــــا ب کوی.
احمدشاه بابا وایی :
دغه ستا دراز خبری می قایمی پر زړگی دی
هوسیږم چی می زړ ه لاله ستا دراز دبلی

داحمدشاه بابا ددیوا ن مدو ن عبد الحی حبیبی لاله دلا لی پهمعنی اخیستی او لیکی چی دا خطاب د ی‌یعنی لا لیه !

(۲۵۱ مخ)

PROPERTY OF ACKU 407391

پهبابولاله کی هم په هر بیت‌کی‌لاله وایی .ملا کا

لمر راو خو ت اوره سره شوه  بابولا له پهلمر راو خو ت

هو پهلا ، لاله اوره سره شوه

کهورابانی زما دجان ده  بابولاله لا له دبر ینبناوی

هو پهلا،لا په دودیی تله شو ه

**لالی :**

لالی اصلا دپښتو په لغت کی هغه مور روی وړو کی ماشوم تـــه وایی چی تی روی او پر خبرو لانه‌وی راغلی .څرنگه چی همدا سی وړوکی ماشوم خورا ډیر پر مو راو پلار او وروڼو او خو یندوگران وی له همدی جهته پښتنو خپل‌مین پهلالی سره تشبیه کړ ی او عینا او س په ادبیاتوکی د محبو ب په معنی استعمالیږ ی .

دلالی‌کلمه هم دمین اود مینی‌یعنی دعاشق او معشوق له خوا یود بله دخطاب او صفت او لقب پر ډو ل دمحبوب په معنی استعمالیږ ی اود پښتو په ادبیاتو کی پهتیره بیا پهلنډ یو کی بیخی ډیر دمینتو ب تر ړو لو الفاظو او تعبیرا تو ز یا ت استعمال او ویلی شوی ده.
لکهپه دی لنډ یو کی :

گلان له خاورو پیداکیږ ی

زما لا ل تر گل ناز ك خاورو له ځینـــه

گل می دلا سه او بو دروور

په غـم شریك لالیه نیسه گو درو نه

په دی لنډ یو کی چی‌و یو نکی یی ښځی دی مراد د(لالی) څخـــه عاشق دی.

او په پښتو کی عاشق‌اومعشوق‌دواړه مین بلبل کیږ ی یعنی عاشق ته هم مین وایی معشوق ته‌هم‌وایی په هر صور ت دایو علیحده تفصیل غواړ ی دلته زما مطلب پهلا لی کی‌دی چی د معشو قی ښځی له خوا عاشق‌لا لی بلل شوی دی لکه په تیرو لنډ یو کی او کله مذ کـــر معشوق هم‌لا لی بلل شوی د ی .

دپښتین شیر محمد وایی .

جانان ځیګی واخیستی ځینه زما پر مخ او ښکلی را ځینه
ګاډی ولاړه ده تیاره دمسافرلا لی دپاره
انجل په چغو ګو تی پوری‌کړی په‌زخمی‌زړویی مالګی‌پوری کړ ی
لاس می په لاس رخصت‌می کی رایل روان دی
خاطر می خنګه پر یشان‌دی

خرنګه چی و لعل ته په پښتولال وایی اولا لی دلال تصغیر ګنــل کیږ ی نو ښا یی چی دا لفظ دهمدغه ځخه اخیسته شوی وی .

پښتانه اکثره پر خپل زو ی او لور ګــلالی نوم ایږدی‌کله کله یوازی تنها لالی نوم پر ایږ د ی او کله کله یو بل صفت لکه تور ، سپین، ژیړ ، آغاور سره جوړه کی‌مثلا تور لا لی سپین‌لا لی ژیړ لالی آغالالی لالی آغا او تور ....

• • •

## لو نګین :

لو نګین هغه دلو نګو امیل دی چی ښځی یی په غاړه کوی لونګین یعنی حمایل لو نګ ، لو نګ پــه پارسی میخك او قر نفل بو لی .
دپښتو دشاعرانو په اصطلاح کی ومین او معشوق او عاشق ته‌وایی.
داېن په‌ناره کی وایی :

خدای دی ما نه خواروینه لونګینه پرخنګ خنګ راواو ړه
پر خنګ راواوړه چی دی شرنګ دبنګړو شینه
لو نګینه پر خنګ خنګ ...
په خواریدو به می دښمن خوشحاله شینه
لونګینه پرخنګ خنګ راوا وړه

جانان زما زه دجانان یم
که‌پر بازار می خرخوی ور سره‌ځمه
لونګین تور یاری یی ګرا نه

• • •

## لیچن :

لچ دپښتو په‌لغت کی دستر ګــواو ګوتویو ډول درد او خوږ تــه وایی ځینی یی خا ص دستر ګو یو ځخصو ص دردبو لی لچ یو قسم‌ګل دی چی په کندهار کی خورا ډیر په‌باغو کی په خپله شنه کیږ ی سره

او سپین او آتشی رنگ گلان کوی گمان کوم چی همدغه د خطمیٔ دگل یوه نوعه ده نو هغه گل چی لوندوی څوك یی نه شکوی ځکه چی وی شکوی او بیا هغه لاس چی د غه گل یی پهشکولی وی وسترگو تهورووړی نو ستر گی خاص دلچ پهدرداخته کیږی.

لچ یالچن هغه چاته وا یی چی سترگییی دلچ په درد خوږ منـــی وی دلچ کلمه دپښتو پهبدلو کیهمددرد او تاثر دپاره استعمالیږ ی .

احمدشاه باباوایی :

ناگهان پرلار ی تلم پهزړه میــنشوم
په ژړا یـــیاو س له غمه ځخه لیچن شو م

عبد الحی وایی :

پهغم غمجن زهیر پروت یم — پهبیلتو ن کی اسیرپرو ت یم
خوناب دزړه می تل جار ی — په دوو ستر گو لیچن بی تا

• • •

## لیلی :

لیلی پهلغت کی وسیاه فام او یوزرنگ تهوایی لیلی دقیس یعنی د مجنون مینه او معشو قه وه لیلی دادب په اصطلاح کی و مطلق مینیاو معشو قی او حسین او ښایسته اوښکلی تهوایی لیلی عر بی لغت دی او پهعر بی او پاړ سی پهزیا ته دپښتو په ادبیاتو او اشعارو کی د محبوب او مینی په معنی بیخی ډیراستعمالیږ ی او همد غه رنگهپښتانه پرخپلو لوڼو ځینی ځینی د لیلینومایږ دی او کلهکله دپښتو پهمحاوره او ادبیاتو کی دلیلی یا په واوسره الیشیږی او کله اسم مصغرهمځنی جوړیږی.

او کلهکله دالف په صورت هـــم یالیکله کیږ ی .

شاعروایی:

لیلوسهار دی ساړه می شینه
راباندیوا چوه لونگی ، دواړهلاسو نه

**لیلو سهاردی**

بلځای وایی :

لیکلی چی لیلو لیلو دینوم دی
راشه غم راسرهنیم **که، لیکلیپرما...**

ملامیران وایی :
دلیلا سینه با غچه ده رنگارنگ گلان په‌زانگی
زه بلبل ،د صبحدم یم دشبنم پرمخ پریږم

• • •

لنډی :
لیلا په‌باغ کی کالی مینځی
سپینه‌سینه یی دباغو شمال و هینـــه
بند که تعویذو نه لیلا
سپینی روپی‌دی پر اور بل و هی تا لو نه

• • •

**ماه زمینه :**

داترکیب او صفت البته پاړ سی‌دی مگر په‌پښتو کی دترکیب ، د وروسته او وړاندی کیدو په لـړ تغیر دمحبو بی په معنی‌استعمالیږی په دی بیت کی دتقابل له‌پاره یونس‌استعمال کړی ده.
التفات می دآسما ن و ماه تـــه‌نشته
بس‌کافی یی ما ه ز مینی را ته تــه

• • •

**مرم :**

یعنی میمیرم . داکلمه هم پـــه‌پښتو کی د درد دښکاره کولودپاره په ادبیاتوکی راځی .
لنډی :
یو واری بیا پردی خوا را شه
دگلولښتی‌په‌دیدن پسی دی مر مه

کمال وایی :
داستا دغمه می خوراك دزړ گی‌وینه‌وای
عجب په تـــا پسی نه مرم لامی زگیرو ی دی

**ملو که :**

ملو که زما په خیال عر بی لغت‌دی چی دملك چی مو نث یی ملکه ده او په معنی داختیار داراو رئیس‌او کالخوایه دی دپښتو په‌محاوره‌کی وایی چی فاطمه دکور ملکه ده اود ملك جمع خو ملوك راځی چی جمع مو نث یی ملکاه دی .



ACKU

مگر داخبره دلته شته چی دعربی دملك په جمع مونث کی واو نه شی راتلای نو ښایی چی دایو بالکل خالص پښتو لغت او کلمه وی .
ملو که په پښتو کی خوراډیر ووایه کیږی او ځینی پښتانه پر ځپلو لوړو ملوکه نوم ږدی دملو کی کلمه دپښتو په ادب کی دپخواوختو څخه په معنی د معشوقی اومحبوبی او مینی استعما له شوی ده.
قطب الدین بختیار په اوو م قرن کی وایی :

ویر می زړه سوری سوری کړ راته‌و گوره ملوکی
په بیلتون کی دی و باسم له خوږ منه زړ گی کو کی
راته‌و گوره ملوکی
راته‌و گوره ملوکی
غوړولی دی وربل دی اور زما په‌زړه کی بل دی
زه بختیار خاوری ایری شو م په اور سوی می گوگل دی
راته‌و گوره ملوکی
راته‌و گوره ملوکی

• • •

دآدم خا ن او درخانی په قصه‌کی‌هم ودر خانی‌ته‌په‌نارو کی ډیر د ملو کی خطاب شو ی‌دی لکه :

طوطی ښه ساته ملوکی ...

ابراهیم خان وا یی :

په مخ ښایسته یی ښکلی‌ملوکی پرشاو خورادی دحسن کو کی
بلبلان ستا یی تاپه گلزار کی طوطی دی ستایی‌په‌سری مښوکی

• • •

**مین :**

مین په‌پښتو کی هم عاشق اوهم‌معشوق ته‌وایی یعنی عاشق‌ومعشوق ته په مین خطاب کوی او بو لی‌یی.
دآدم خان په قصه کی آدم خا ن‌پردرخانی ناره کوی.

ورځ راغله دا لویه پسی شپه راغله داتوره
روښنایی راغله په‌کور کی تاریکی یی‌واړه وایسته‌له‌کور ه
ولی سستی کړی خبری پڅو شود دوو مینو مینه نوره
پرپالنگ‌به‌زماڅرنگه‌ځای نه شی
خا صگی پالنگ‌دی‌ډیردی‌لور دلوره

لنډی :

مینه کور به دی تالا شی
زما په توروزلفو مه و هه لا سو نـــه
سبا به کاني بوټي ژاړ ی
چې یومین له بله غواړ ی رخصتو نه
سبا به بیا ژاړی مینه
د خپل مین په دیدن کاره ار ما نو نه

**نازولی :**

نازولی هم پهپښتو لنډ یو ا و بدلوکی استعمال‌لری او **پښتانه خپل مین پهستایی او خطاب ورته‌کوی.**

لنډی :

دنازو لی غم رنځورکړم
خلکو تهوایم چې ژړ ی تبی کو مـــه
دانازو لی لور دچا ده
اور یـی زما پر زړ گی بل کی ویی سومه

• • •

**ناز نین او ناز نینه :**

نازنین او ناز نینه که‌څه هـــم دپاړسی په ادبیاتو کی ډ یـــــر استعمالیږ ی مگر دپښتو پهادبیاتوکی همدغه رنگه دمطلقی محبو بی په معنی استعمالیږ ی په زیا ته بیاناز نینه چې دناز نین مو نثه کلمه ده او پهپا ړسی کی خودتانیث‌کلمه‌نشته له همدی جهته اکثره پهپښتو کی و محبو بی او مینی پهناز نینه خطاب کیږ ی.

یو نس وایی ـ
نور څه مهوایه بی مینی راته ته کړه ویل دناز نینی راته ته
احمدشاه باباوایی :
ناز نینه ده دلجو یه له هر چاکوی یار ی

• • •

**ناورین :**

ناورین یعنی سوگـ، غم ،مصیبت‌ماتم



ACKU

محمد ايوب وا يى :
آسمان ته گورم آسما ن شيـنْ دى
پر ما داخه دغم ناور يــــن د ى
داستا دلا سه مى زړ گى پـــر آتشين دى
ار ما نارما ن بى نياز ه يـــا ر ه

• • •

**نجلى ـ**

نجلى په محاوره كى مطلق لور چى په پاړ سى دختر ور ته وا يىده اود پښتو په ادبياتو كى په معنـى دمعشو قى او مينى ده.
**لنډى :**
نجلى په خپله ځان رسوا كى
چى د واده ډوډ ى په خپله پخو ينـه
نن مى خفه زړ گى خوشا ل دى
نجلى پهسرو منگولو و كړه سلا مو نه
دمور ترشا چى نجلى خاند ى
لكه بريښنا چى دكوه كا ف تر شاو شينه

* * *

**واويلا :**

دواويلا كلمه هم دپښتو پــــهادبياتوكى دافسو س او فرياد په ځاى كى وايى .
عبد السلام وايى :
غماز په مينه كى رسواكړ م ديوانه عشق زه دليلا كړ م
ديار يار ى هميش پهغلا كړ م آهو فرياد تل واويلا كړ م

* * *

**هلك :**

يعنى بچه دپښتو پهلنډ يو كـــىمين او عاشق يا معشو ق په هلك سره ډير ستا يهكيږ ى اود هلـك پهنا مه ومين ته خطاب كوى .

هلك دى و لى په ژړا كى
تر دريڅـــىدى ور ښكاره كړه شنه خالو نه

هلکه ! لوی شی بر خور دار شی
روز ی دمور شی زه دی تش دیدن کو مه

هلکه لیری راشه ګرزه
ستا د یاری پر انګار و کړ یه مـــه

هلکه راشه چی خو له در کم
دشپی‌می‌مړ په خوب لید ی ارما نی شو مه

هلك مین شو رنګ یی ژیړ شو
مور یــی ژیړی ور پری کوی‌چی‌جوړ‌به‌شینه

هلك دباد دلور ی را غی
دشکر سیب پاڼه په خو له شونډان‌ځبیبنمه

* * *

**یار :**

دیار کمه کڅه هم دپاړ ســـی‌او پښتو په ادبیاتو کی شر یکـــه او ګډه استعمالیږ ی مګر په‌پښتو کی تر پا رسی زیاته دمحبو ب په معنی استعمالیږ ی .

یار په‌لغت کی ملګری او مل ته‌وایی ،دادبیاتو په اصطلاح کـــی محبوب او معشوق او مین ته وا یی

لنډی :

ګل می کاره یار را ته ناسته‌و
چی‌ګلا ن‌ګل‌شوه یارمی توری خاوری خورینه

خدایه ما ګل دبیابان کی
چی دخپل یار دلوری باد می ښو رو ینـــه

عظیم وایی :
مر جوڼا دژړه می تل راوباسی درګو هر دیار دمینی‌له‌دریا به

حمیدوایی :
داپه‌و چو لی تور خال زما دیار دی
که آذان سره ختلی‌دی بلال

**هغه الفاظ او کلمی چی هم په پښتو او هم په پا رسی کی ومین ته خطاب په کیږ ی .**

غنچه فام ، ناز نین ، مه جبین، گل دهن، سیمن تن، دلدار،وفا دار دلبر ، گل اندام ، لب شکر ، د خو بانو سر دار ، مهربان ، شاه‌د چین ، گل رنگین ، گل خندا ن ، خو ش رنگ ، شاه جها ن ،صنم شیرین ، صنم جان ، سیمین ذ قن، غنچه دهن، گل رنگ پر ی ، پری چهر، شا هزاده ، گل ، گل پر ی، گل بدن ، مه‌لقا سلطا ن ، بلبل ، دخو بانو میر، رشك قمر ، سرو ، شمس و قمر ، رنگین ، فخر خوبان خو بروی ،شهسوار ، یار ، شکر لب ، لب شکر ، طوطی، سمین تن، شرین سخن، بلبله، بلبل ، کو تره‌دلربا، گلِر خسار ، گل آ نار ، نازك بد ن ، گل دچمن ، نگار ، گلزار ، دلدار ، گلفام ، شاه خوبان حسن دار ، شیدا، حبیب ،عنبربو، پری رو ، مشك بو ،محبوب گل-پری ماه تابان ، شاه یمن .

* * *

**باز :**

پښتانه کله کله خپل مین په‌باز یاکجیر یابل مر غه سره تشبیه او ستایی.

**لنډی-**

دزړه کتری می درکو لی ... کم اصله بازه زه دی‌ونه‌پیژندمه

آمو خته باز راځخه والوت
د سپینـــی خو لی پیشپیر په‌لاس ولاړه‌یمه

یادونه : باز باید د «ب» په‌ردیف‌کی راغلی وای مگر نه‌ده معلومه چی په اصله نسخه به همد غسی‌وی او که به‌د ټایپ په‌وخت کـی‌بی ردیفه شوی وی

# څرګندونې

دمرحوم محمدګل نوري (دیارلس سوه شلم نه تر دیارلس سوه دری نویم ه.ق) د ناچاپو (۱) آثارو په جمله کې یوه کوچنۍ رساله د مینو ستاینې نومیږي چې دغه کوچنوټی رساله د افغانستان په ملي آرشیف کې په څلور پریو سلو دوه څلویښتنومره قید ده

په دې رساله کې په نامرد فډول ځینې کلمات او وییونه کښل شوي چې هم زموږ په فولکلوري ادب کی او هم زموږ په لیکلي ادب کی د مین (عاشق) او مینې (معشوقې) له پاره په بیلا بیلو حالاتو کې استعمالیږي . ځینې دغه ډول کلمات د عامو خلکو په خبرو او محاوره کی هم شامل دي او د پښتو نخوا په هره سیمه کې ورته خلک خاص عامیانه تعبیرونه لري ، چې که د خلکو له خولو دد غسي او حتی ځینو نورو دغه ډول اصطلاحاتو او وییونو عامیانه تعابیر راغونډ کړه شي نو زموږ د فولکلوري فرهنګ په بشپړ تابه اود تکمیل په مراحلو کی به په زړه پورې ګام وي .

ددغې رسالې ګرده کلمات ، او اصطلاحات له او لسې محاورو او خبرو پر ته زموږ داولسی ادبیاتو په عمومي سندرو لکه لنډیو ، دواده سندرو (بابولالو) داتڼ نارو، دکاکړو په غاړو،سروکو او نورو کی ډیر زیات موندل کیږي او دد غو سندرو روح ته دد غسي کلماتو او تعابیرو استعمال خاص شکل ورېخښی .

دغه ډول زموږ عامو او لسی شاعرانو هم دپښتو داولسی ادب په خاصو سندرو لکه چاربیتو ، بدلو ، بګتیو ، لوبو او نورو ، اصنافو کی دغه ډول کلمات په پیخرو پیخرو استعمال کړی دی او



ACKU

ددغه ډول او لسی ادبیا تو دعشقی سندرو شمز ی دغه ډول تعا بیــر جوړو ی او عشقی سندرو ته ځوښن او خروښن ور کوی .

داولسی ادب د خاصو او عا موسندرو تر څنگه په دی‌رسا له کی راټول شوی کلما ت زموږ مدون‌ادب ته هم لاره لری ، او البته ځینی‌دغه ډول اصطلا حات ، تعبیرا ت او ویپو نه بیا یواز ی په‌پښتو اد ب کی‌نه بلکی په پارسی اد ب کی هم په‌زیاته پیمانه مروج او مستعمــل دی

مرحوم نور ی دغه رسا لـــه‌ددیار لس سوه یوو یشتم ه. ش‌کال دحوت په دیر شمه نیټه پای تـــه‌رسولی ، اودرسا لی په پیل کـــی لیکل شوی دی :(( دایوه وړو کـــی‌مستقله رساله ده ، چی هغه الفاظ او تعبیرا ت سره له شر ح پکـــی‌لیکلی دی چی مین او مینه یی یود بله دخطاب او ستا ینی پر ه و ل‌استعمالوی.))

په‌رساله کی دری پنځو ســــــ‌اصطلا حات او یاو ییو نه‌را غلی دی چی دوه پکی تکراروو ، هغه چی تری لیری کړ ی شی نو یو پنځو س پاتیږ ی* .دمین او مینی تر منـــځ‌دخطابونو دغه کلما ت چی مر حو م نور ی راټول کړی . هری‌اصطلا ح‌یاویی ته‌یی شر حی هم کښلی د ی او بیایی په‌شفا هی ادب (لنډ یو ،نارو ، پابولالو او نورو) او مدو ن ادب (ځینو دیوانونو) او همدا رنگه‌په‌سپرو بدلو او چار بیتو کی‌ددغو کلماتو داستعما ل موارد هم پیـــداکړی او له خپلو شر حو سره یی‌د ادبی مثال په‌توگه مله کړ ی دی.

مر حوم نور ی چی کو می شرحی له دغو اصطلا حاتو سره ملی کړی دکوم خا ص پر نسیپ تابع نه دی، د‌په دی معنی چی :

۱ ـ دغه شر حی با یـــــد دکلیوا لی تعبیرا تو تابع وا ی،یعنی داچی : یو کلیوا ل سړی((لا لی ،شین خالی، ژیړو ، دژیړو گلوباغ، مین، مینه)) او نور څر نگه شرح کوی اودد غوکلماتو په‌با ب‌دکلیوالو تعبیر څه دی ؟

---

* درسالی په‌پای کی ځینی کلمات‌بی‌شر حی هم راوړ ل شوید ی چی مینوته خطاب‌پر کیږ ی .

۲ ــ په لغوی لحاظ: یادی دغــــه‌شرحی دلغو ی اصولو دشنلو تابع وای، چی په‌رساله‌کی راغلی کلمات‌اوویپونه له‌قاموسی اصولو سر ه سم شرح شوی وای اود لغت لــه‌پلوه یی دهری کلمی معناو ی پـــه تفصیلی ډول کښلی وا ی او بیا یی‌ادبی‌نظایر هم ورسره مله کـــړ ی وای.

۳ ــ یاداشر حی باید د،د بـــی تعبیراتو او شاعرانه تخیلا تـــو پر بنا سمی جوړ ی او سمبـــا ل شوی وای ، درسا لی کلمات یی د شاعرانه تخیل او ادبی انداز پــــه‌چوکاټ کی سره شر ح کړی وای.
موږ چی درسالی مضا مین پر له ړوو، ځینی شر حی دکلیوا لـــی تعابیرو تابع دی ، ځینی‌یی پـــــه لغوی لحاظ او ځینی‌یی له اد بـــی تعبیراتو سره سمی شر ح کړ ی دی یو خا ص پر نسیپ دلیکوا ل دشر حو ملاك نه دی .

ادبی نظایر یی هم زمو ږ تو ل‌قدیم او شفا هی ادب نه احتوا کوی بلکی له ډیرو محدودو دیوانو اودشفا هی او لسی ادب له څـــو اصنافو څخه په دی بر خه کی کاراخیستل شوی دی، په ټو ل قدیم مدون او شفا هی ادب کی لټون نه‌دی‌ورپسی شوی ، مگر بیا هـــم که موږ د دیار لس سوه یو ویشتم هـ.ش کال دتحقیق شرایطاو وسایل په‌پام کی ونیسو ، نو به مر حو م‌نور ی نه‌گر موو اودابه وایو چـــی دتحقیق له محدودو منابعو سره‌سره هم‌دغه رساله گی په خپله نو ع کی ښه رساله ده .

که‌څه هم شر حی یی دوا حدومیتودیك پر نسیپ تابع نه دی او ادبی نظایر یی هم محدود دی، مگربیا هم دهغه‌و خت له شرا یطـــو سره سم نوی او په زړه پور ی‌کاردی چی هم فولکلور ی خواو ی‌لري او هم ادبی . له‌بلی خوا یـــــو نو ښت پکی دی او هغه دا چی‌ددغه ډول اصطلا حاتو او تعبیراتو ر ا ټولولو ته دچاپام کیده ،اوتراو سه دتحقیق‌دشرایطوله‌بدلون‌اود منا بعوله ډیروا لی سره سره موږ نه د ی کړی، چی لر او بر دفولکلور ،ادب‌پو هنی او نورو علمی او فنـــی څا نگو پور ی خاص او مو جو د کلمات او مربوط وییو نه شر ح‌کړ و او مستقل فر هنگو نه تری جو ړ کړو. له‌څو محدو دو فر هنگو نو پر ته موږ تخصصی تشر یحـــی فر هنگو **نه نه لرو (۲).**

دلته یوه بله خبره هم باید هیره نه‌شی او هغه دا چی ددی‌رسا لـی کلمات او وییو نه اود هغوتعبیرات که‌له لغوی شر حو یی تیر شو او کلیوا لی شر حی یی په‌پام کی‌ولرونو زموږ دلویدیزی پښتو نخوا د سیمو تابع اود هما غه جغرا فـی‌محیط زیږ ندو ی او پر هغه محیط او سیمه او خلکو اړه لري. ځکــه‌محاور ی، اصطلا حا ت او تعبیرا ت له‌یوی سیمی بلی ته فرق پیــدا کوی او حتی دځینو کلمو استعمال په‌سیمو پور ی خاص دی، یعنی داچی‌ځینی کلمی دیوی سیمی‌پښتانه په خپله ژبه او محاوره کــــــی‌استعمالوی او ځینی نور یی بیاپه شر قی او جنو بی سیمو کی نــه‌استعمالوی ، همدا رنګه له یوی وا حدی کلمی او ویی څخه تعبیراوتفسیر هم دسیمو او جغرا فی‌محیط له‌پلوه فرق پیداکوی ، نو ځکه ز ه‌داوایم چی ددی‌رسالی گر ده‌اصطلا-حات او تعبیرا ت بنا یی په ټو لوپښتنی سیمو کی مستعمل نه و ی، لکه چی نه دی ،دمثال په ډو ل‌ژیړویوه خا صه اصطلاح ده ، چی د معشو قی له‌پاره په کندهار ا و د کوټی په‌شاو خوا پښتنو کــــی استعمالیږ ی او زموږ دشر قـــی‌سیمو پښتانه له دی ډول اصطلاحاتو سره ناآشنا دی. حال دا چـــی ((ژیړو)) دکاکړو په فولکلور کی ژوری ریښی لري، اود کاکړ یو اویاغاړو یوه کافی اندازه‌د(ژیــړو) توصیف او ستا ینی ته و قـــف‌شوی ده (۳).

دغه ډول له ((شین خا لی)) نه‌چی کوم تعبیر دنورو سیموپښتانه کوی، هغه تعبیر بیا دکاکړ و په‌نارواودلو ید یزو سیمو په عاموپښتنو کی‌بیل دی.

د خلکو سند ر ی د کتــا ب‌مولف دد غسی خا صواصطلا حاتو په‌باب په دی کتاب کی یو ځــا ی‌کښلی دی:(( ... شین خا لـــی چوری، پــوری ، سری ، ژړو، وراو لیو نو نو مو نه دمین له خوا خپلی محبو بی اود((گران ، گرانو،او گل)) نو مو نه مینی دخپل مین له‌پاره اخیستی دی او هم ((کړ جن،اوژاو لن)) ر قیب او دریمگړ ی ته ویل شوی دی چی په دی اسا س داټول هغه اختصا صی القا ب ا ټکی دی چی په دی غاړو کی د مین‌او مینی له خوایوبل ته‌ویل شو ی چی‌نه‌یواز ی دنورو ژ بو په اد ب کی‌نه‌لیدل کیږ ی بلکی دپښتو په‌نو رو او لسی او عرو ضی سندرو کی‌یی‌هم نه مو مو ...))(۵).

لەلوړه بحثه څخه دنتیجه گیری پەډول داوایم چی ددی رسا لـــی محتویا ت هم فولکلور ی او همادبی‌ارزښت لری، او زمو ږ دپښتو ـ نخوا دیوی سیمی تقر یبا گر ده هغه اصطلاحات او تعبیرات‌رانغاړی چی دمین او مینی ترمنځ‌استعمالیږی‌او یا په مینه او عشق اړه‌لری. نو که دغه اصطلا حا ت په نورو پښتنی سیمو کی نەو ی او یایی تعبیر ا و تفسیر بدل وی ، نو بویه چی‌زموږ‌محترم محققین او لیکوا ل‌داصطلاـ حاتو او محاورو داستعما ل‌پەمواردو کی‌جغرافی محیط پەپام کی و لری، داسی نه و ی چی د خپلی سیمـی تعبیر او تفسیر ته پر هر څەترجیح ورکوی او نور غلط اویا هم‌مجعو ل بو لی ؟

درسالی دکلماتو دتشر یح تـــرڅنگه چی کوم ادبی نظا یر را غلی هغه زما په فکر کافی دی او کـــەموږ دهری کلمی له پاره نور اد بی نظایر وغوا ړو گمان کوم پەشفاهی‌ادب، او لسی سندرو او مدو ن پښتو ادب کی به دهر ی کلمی له پاره دیو ی همدو مره رسا لی په اندازه ادبی‌نظا یر پیداکړ و.

دتشر یحاتو دغیر میتود یـــك‌سیستم درېږ ی پره به یی د هغ ه وخت دوسایلو پر نەلاس بری اودتحقیق داصو لو پرنه پیاوړ تیاحمل کړ و اود غه کوچنوټی رساله به یی موږ دخپلو آیندگانو اواو سنیـــو فولکلور څیړ و نکو دیوی ر هنما په تو گه و بولو چی هغوی یی‌و لولی نقدیی کړ ی ،کمبوتی‌یی ور پور ه کړ ی او ترڅخی ور واچوی .

څنگه چی دمخه می هم دی‌مو ـضوع ته اشاره وکړ ه ،چی‌درسالی محتو یا ت هر څه چی دی دمو لف‌دی او څه پر زیاتول که غوا ړو نو بویه چی همد غو مر ه ر سا لـــەنور ه و کاږو، زما په عقیده به دی رساله‌کی چی د((شبها، شبهی ا و شبهو)) تر سر لیك لا ندی کـــوم تشریحات را غلی په اد بی ،تاریخی‌او ژ بنی لحاظ تکمیل ته اړ تیا لری نو ځکه زه لو مړ ی په دی با ب دمر حوم نوری خپلی خبری راو ړم او بیایی پەتکمیل پسی لیکچـــــی‌رانغاړم.

دمر حوم نور ی ددی رسا لی دشپن پەردیف کی تر دو هم سرلیك لاندی ((شبهی، شبها ، شبهو)) پەدی‌ډول تشریح شوی دی :(شبها، شبهی شبهو) دری واړ ه یوه معنی لری ،شبهی او شبهو پەعر بی لغت کی‌هغه شی تەوایی چی مشتهی وی او د سړ ی هوااو اشتها ور تەکیږ ی .

دالغت کهځه هم عر بی دی. منګر پهپښتو ادب کی یی دو نه عمو میت موندلی چی اکثره وګړی یی دپښتومال بولی ، شها ، شهی ، شهو په الف،یا او واو سره دپښتو داد ب په :صطلاح کی فقط و معشو قی او مینی تهوایی.

اعلیحضرت احمدشاه باباوایی :

که دصید په دود سم غلی نـــهځلا صیږ م
له شهیابرو کمانه جنګ پر جنـــــګ

همدا رنګه بل ځای وایی:

مینه هیچیر ی په زرو په زور نه شی
دشها مینه په روح ده زړه له تـــــا

بل ځای وایی:

دشها دانګښیل سی احمده!      کهتسلیم خپلهرضا کړیزما دله

شهو ددلی نا می مینه اومعشوقه وه ، چی دا دوه مینا ن لویه قصه لری داکبر پاچا په عصر کی و ، دلته یی تفصیل نه ځاییږ ی ، مایی قصه لیکلی ده ، که خدای کو لد ملی هیندار ی په دو هم جلد کی به چاپ شی .

او زما په خیال دشها او ګلا نپهنا مه یوه قصه شته ، مګر یقینااوس نه ده رامعلو مه چی کله او څنګـهوه؟

کله‌کله ځینی پښتانه دشهو نومپر خپلو لوڼو ږدی او کله کله په محاوره کی (ه) په(و) بدلوی(شوو)وایی.

خو شحال ختك :

دشهی تورو سنبلو      پهسپین مخ یی تسلسلو
پری غو غاکانی بلبلو      تل بهو خت نهو ی دګلو))

( تمه کلامه)

او س زه دمر حوم نور یدتشریح‌دهری بر خی دتکمیل ز یـــــا ر وباسم .

**۱ــ لغوی او لسانی تشریح:**

په دی با ب لوی استاد پو ها ندعبد الحی حبیبی دپټی خزانی پـــه تعلیقا تو(٦) کی داسی کښلی دی:(( این کلمه درادب پښتو خیلی‌زیاد واز مد تها ی قدیم مستعمل است‌شها ، شهی ، شهو به سه‌صور ت



ACKU

تلفظ میشود ، ویك نام عمو مـــی‌است برای محبو به و معشو قـــه
از مضمو ن شعر این کتا ب ، نظا یر ادبی ذیل بر می آ ید که‌هر
معشو قه‌را هم می توا ن شهـــی ، شمـا ، شهو خوانند)).
( په ادبی نظایرو کی‌دخوشحال (یوزرو دوه ویشتم نه تر یوو... ل
سوم ه.ق) او لوی احمد شاه بابا (یوواس سوه شپیتم نه‌تر یو اس
سوه شپږ اتیایم ه.ق) تیر ی‌راو ل‌شوی شعر ی نمو نی را غلی دی
بیا می رانه وړی).

**۲ ـ ادبی‌نظا یر:**

شهی تر خوشحال او احـ ... دمانه ... تیمه ... ـ
(رح) دپاره کی په‌یوه بند کی دا ... ی‌راغلی ده:

نه‌به‌بیایم نه‌بیارامی نه‌به تیاره شهه زما رڼا سبی
نه‌به‌شهی رانه‌پخلا سی بلیری بیری اوس‌دیون راغی(۷)

او خانگل خاـ‌ل ( یوولس سوه‌یدیوسم ه.ق حدود ) داسی راوړی
ده:

چی می ستر گی‌و لویدی‌رتاشهی پرزره باندی می‌یوه بله‌بلرا غله

* * *

په‌ژړا به می لمن لنده وی ډیر ه
که‌خر گنده می په‌ستر گو شهـــا راغله (۸)

دغه ډول نمو نی په‌پښتو لرغونی‌ادب کی ډیری دی چی دټولو راو ړل
به خبره اوږ ده کړی‌قدیمه‌نمونه یی دشیخ تیمن وه ،چی دبحث د
تکمیل له پاره راوړ ل شوه ،دسیدال‌خان په((بدله)) کی هم دا سی‌راوړه
شوی ده:

(شهی ده ستمگاره خو شحا ل زړو نه به‌ز خمی کا)).

**۳ ـ ددلی او شهو قصه :**

ددلی او شهو قصه لکه چـــی‌مر حوم نوری ویلی په شفا هـــی
ډول په‌پښتنو کی مو جوده‌ده ، اوروایتی شکل یی همده را ټول‌کړی
اود ملی هیندار ی په دو هم ټو ك کی‌یی خو ندی کړی دی(۹) .
اما دغه قصه زمو ږ په منظو م‌ادب کی کابودری‌سوه کلنه‌سا بقه
لری، دغه قصه لو مړی ځل دخو شحال خان ختك فر هنگیا لی زوی
صدر خان ختك په‌پښتو مثنوی‌نظم‌کړی او په‌ورو ستیو کلونو کی د

پیښبور دپښتو اکاډمی له خوا د خیال بخاری له سریزی سره چاپ شوی ده.

ترصدر خان وروسته ددیار لسمی پیړی شاعر عبدالباقی هم دغه قصه نظم کړی اود تحفته العشاق په نامه یی نوملی ده چی دغه قصه هم دکتابونو دتاجرانو له خوا په همدی نامه چاپ شوی ده.

ددی قصی دریم ناظم معظم ګل نومیږی ، چی دپیښبور دشاو خوا سیمو او سیدو نکی شاعرو اوددلیشهو قصه یی دغزلو په چوکاټ کی نظم کړی ده . دده قصه مستقله نه ده چاپ شوی بلکی دپیښبور د پښتو اکاډمی پښتو مجلی په نولس سوه نهه پنځوسم ع کال په خپله یوه ګڼه کی چاپ او خپره کړی ده(۱۰) .

**٤- دشها او ګلان قصه :**

مرحوم نوری کښلی دی ، چی زه ګمان کوم دشها او ګلان په نامه هم قصه شته. دغه حدس سم دی. دغه قصه زموږ له ملی قصو څخه ده ، لوی استاد پوهاند حبیبی د پښتو خزانی دیوسلوشپږ دیرشم مخ په حاشیه کی کښلی دی :((این قصه از شیرین ترین قصص ملی پښتو است،که دو نفر پهلوانان آن شها (زن) ګلان(مرد) نمونه برجسته عشق پاك ، عفت ،اخلاق پاکیزه وبسی از سجایای ملی اند.وتاکنون این داستان ملی در بین عوام مو جوداست و به صورت اشعارخالص ملی ناره های منظوم و قسمت های منثوری دارد)).

دغه قصه په یوولس سوه نهه ویشتم ه.ق کال بابوجان بابی د ((قصص العاشقین)) په نامه په پښتو نظم کښلی چی یوه برخه یی دپښتو خزانی زرینو پاڼو ترموږ پوری راسولی ده ، دقصص العاشقین یوه برخه داده:

عشق یو هسی توریا لی دی — چی په هرځای یی بری دی
دعشق اور هسی سوزان دی — چی سوځلی یی جهان دی
زړه بی عشقه کله زړه دی — چی بی عشقه زړه دمړه دی
نه دی عشق په یوه رنګ — کله صلح ګهی جنګ
پښتانه کاندی متل — چی دی خوږ تر شات عسل
(چی بی عشقه سر کدو دی) — تش بی مغزه یولاډو دی(۱۱)

دپښتو ژ بې ددیوا ن خاو نــــد شاعر حاجي جمعه بارکز ی(دو لس سوه نهه پنځو سم ه.ق‌مړ) هم په‌خپل دیوا ن کی دشپها او ګلا ن ، یادو نه په دی ډول کړی‌ده:

دشپها ملا لو سترګو ګلان بندکړ په افسو ن(۱۲)

**درسالې ترتیب:**

دمړ حوم نور ی دمړ ینی دلسم تلین دیادو نی دغونډ ی دقدار ك علمي کمیټې اود ژبو او‌ادبیاتو د انسجام دعلمي کمیسیون دفولکلور او شفا هي ادب دکمیټې له‌پریکړی‌سره‌سم داو پتییل شوه ، چـــی ددغې غونډ ی په‌ویاړ دی دمړ حوم نوري یوه ناچاپه رساله هم خپره شي اود چاپ او خپر یدو چاري دی‌یې کابل مجله پر غاړه واخلي .

موږ دانسجام دکمیسیو ن ، د فولکلور او شفا هي ادب دکمیټې په لارښوو نه اود لوی استاد پوهاند عبد الحی حبیبي په مشوره د غــه رساله دچاپ له پاره غوره‌وبلله.

تردی وروسته دفولکلو ر ا و شفا هي ادب دلوی مدیر یت علمي غړی حضرت محمدویاړ ته‌و ظیفه وزکړل شوه چی دغه ر ساله دملي آرشیف‌له مخطو طي رانقل کړی ،دفولکلور او شفا هي ادب‌لوی مد یر دی پر ی یوه ســــــــر یــــز ه‌وکاږ ی اود غه ډول خپنې څرګندونې دی هم ورسره ملي شي .

ښاغلي ویاړ رساله‌نقل کړه ،اوښاغلي زیار ن هم خپله مقد مــــه وکښله دواړو خپل کارونه ما ته‌راوسپار ل ، او ما هم درسا لـــــی محتو یاتو ته‌په پاملر نه دغه څــــو ناقابلي صفحې دڅرګندو نو په‌نامه پرو کښلې ، چی دژیار ن‌له‌سریزی‌ور پسې دویا ړ له خوا نقل شو ی متن او پری پسې له دغوڅرګندونوسره یو ځای ګرانو لوستو نکو ته وړاندی‌کیږ ی.

درسالې نقل ماله‌سره‌وکو ت ، کلمات می تردیف کړل ، اضافا ت او مکررا ت می تری لیری کړ ل (دوی کلمې چی مکرر ی را غلی‌وی)

هيله ده چی زموږ دریواړوزیار د پښتنی فولکلور دخیرو نکو په درد ولګی او که موږ سهو وو دمهربانی له مخی زموږ له سهوو را تیـــر شی. ز.م

**ماخذونه او تشریحات :**

۱ـ دمحمدګل نوری دغه‌لاندی‌نوری ناچا پ آثار هم ما ته معلوم دی.

الف ـ خوږ باندار ، د دیار لس سوه شلم ه.ش ګال تالیف دد غه کتا ب خطی نسخه دافغانستا ن په ملی آرشیف کی خو ندی ده(څلور پر څلور نومره).

ب- زوړ کندهار ،دد غه اثر لاس‌کښلی نسخی دلوی استاد پو ها ند حبیبی اود استاد رشاد په‌کتابخانو کی خو ندی دی .

ج- دخوشحال منتخبا ت ،داکتاب‌ماد مرحوم نوری له کور نی سر ه لیدلی‌و.

(۲) زموږ فاضل استاد پو ها ند‌عبد الشکور رشاد (خدای دی پرعمر بر کت‌کا) پښتو فر هنګ لیکلی ته‌یه‌تشریحی سیستم کی خاص رو نق ور بخښلی دی او په خپل مکتبی قا موس (ناچاپ) دپښی خزا نـــی فر هنګ (تر چاپ‌لا ندی) دخیر البیا ن فر هنګ ( د دیار لس سوه دری پنځوسم ه.ش کال چا پ) دفواید فقیر الله فر هنګ (ددیار ـ لس سوه نهه پنځوسم ش کا ل چاپ) داسماء الحسنی‌فر هنګ ( دیار لس سوه نهه پنځو سم ش‌کال چاپ) ، دحاجی جمعه بارکزی‌ددیوان فر هنګ ( د دیار لس سوه شپیتم ش کال چاپ) اود خوشحال‌دکلیات فرهنګ (ناچاپ) کی‌لغات ،تعبیرات‌او محاور ی او اصطلا حا ت له‌ادبی نظا یرو سره په‌تشر یحی ډ و ل راوړ ی‌دی.

(۳) کاکړ ی لنډ ی دصا حبزاده‌حمیدالله ، غا ړ ی او کا کـــړ د پرو فیسور و لی محمد سیال په‌دی باب ډیر مواد لری.

(٤) دکاکړو په غاړو کی دشین‌خالو ناری دیوه څانته مو ضو عی صنف په توګه دخیر نی پرا خ ډګر لری.

(٥) د خلکو سندر ی ،یوسلو اویایم مخ‌دیار لس سوه نهه‌څلویښتم ه.ش کال دکابل چاپ ، تاریـــخ ټو لنه .

(٦) دپښی خزا نی تعلیقا ت‌دو ه‌سوه اوه څلویښتم مخ ، د دیارلس سوه درویشتم ه.ش کال چا پ ، کابل- پښتوټو لنه.

(۷) پټه خزانه د محمد هو تك دری شپیتم مخ لو مړی چا پ دیار- لس سوه درویشتم ه.ش کا ل ، کابل.

(۸) دخانگل خلیل خوشعرو نه، دزلمی هیواد مل ، یوځلویښتم مخ، ددیار لس سوه شپیتم ه.ش کا ل چاپ، کابل - پښتوټو لنه.

(۹) و گوری ! ملی هینداره‌دویم ټوك یو سلو یو نوی‌یم او یوسلو شپږ نوی یم مخو نه دپیښاور چا پ.

(۱۰) پښتو منظو می قصی ،د عبدالکریم پتنگ ، اوه دیرشم نه‌تر یوځلویښتم مخو نه ، د دیار لس سوه اوه پنځو سم ش کال دکا بل چاپ.

(۱۱) پټه خزانه یو سلو پنځه دیرشم مخ .

(۱۲) دحاجی جمعه بار کز ی دیوا ن یوسلوپنځه اویایم مخ ، د دیار لس سو ه شپیتم ش کا لچاپ کابل - پښتوټو لنه.

PROPERTY OF ACKU 407394

د . ا . د . ج
دچاپ او خپرولو دولتی کمیته
پرله پسی نومره : ۷٦
دولتی مطبعه

Download from: aghalibrary.com